# د تمویل د مېتودونو تاریخي مطالعه

**پوهنیار عبدالله حبیبي**
د اداري تشبثاتو او مدیریت څانګه، اقتصاد پوهنځی، پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه.
بریښنالیک: abd.habibi.af@gmail.com

**لنډیز**

تمویل د هر شخص او بنسټ د پاینښت لپاره د ملا د تیر حیثیت لري او له هغه پرته هېڅوک نشي کولای چې خپل اقتصادي ژوند ته دوام ورکړي. د تمویل دې اهمیت ته په کتلو سره دغه څېړنه د تاریخ په اوږدو کې د تمویل د مېتودونو په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو په موخه تر سره شوې دی. د څېړنې اړوند معلومات له کتابتوني روش سره سم له کتابونو، علمي مجلو او معتبرو انټرنیټي پاڼو څخه را ټول شوي او د استقرائي روش په مرسته تحلیل شوي دي. په پای کې داسې پایله تر لاسه شوې دی چې له مېلاد څخه مخکې به له مذهبي معبدونو څخه د تمویل لپاره قرضه ترلاسه کېده، د عیسویت په منځ ته راتګ سره سود منع شو او د شتمنۍ د ګرو کولو په بدل کې قرضه ترلاسه کول دود شول؛ خو وروسته بېرته سودي تمویل وده وکړه. د اسلام د سپېڅلي دین په منځ ته راتګ سره سود حرام وګرځېده او د مضاربې، مشارکې، مرابحې، سلم، اجارې، استصناع او مزارعې له مېتودونو څخه ګټه کول جایز وګڼل شول. په معاصر تمدن کې د تمویل لپاره له داخلي او خارجي مېتودونو څخه ګټه اخیستل کېږي. په دې مېتودونو کې د سهمونو له توزیع کولو څخه تمویل، له قرضې څخه تمویل، له تر لاسه شوې ګټې څخه تمویل، د شتمنیو له خرڅلاو، پیشکي تر لاسه شوې پیسو او د ادایني وړ اسنادو او حسابونو څخه تمویل او له بیلانس شیټ څخه بهر تمویل شامل دي.

**کلیدي کلیمې**: په اسلامي تمدن کې تمویل، په لومړنیو مېلادي پېړیو کې تمویل، وړاندې له مېلاد څخه په تمدنونو تمویل، په معاصر تمدن کې تمویل، په منځنیو مېلادي پېړیو کې تمویل.

**سریزه**

تمویل عربي کلیمه ده، له «مال» څخه اخیستل شوې ده، مصدر یې «مول» دی او یو چاته د اړتیا وړ مال ورکولو ته ویل کېږي. هر هغه شی، چې د یوه شخص یا ټولنې په واک کې وي لکه وسایل، تجارتي توکي، ځمکه او تعمیر، نغدي پیسې یا حیوانات مال بلل کېږي (أنیس، منتصر، الصوالحي، & أحمد، ۲۰۰۸). یا په بل عبارت هر هغه شی، چې د یوه انسان په ملکیت او واک کې وي، هغه که مادي وي یا غیر مادي مال بلل کېږي. هغه څه چې یو شخص یې خپل ملکیت ګڼي؛ خو دده په واک (مالکیت) کې نه وي د هغه مال نه ګڼل کېږي لکه مرغه په هوا کې، ماهی په اوبو کې او یا وني په ځنګل کې (ابن فارس، ۱۳۹۹ ق). تمویل ته په فارسي ژبه کې «تأمین مالي» او په انګلیسي ژبه کې «Finance» ویل

کېږي، Finance کلیمه په پنځلسمه پېړۍ کې را څرګنده شوه، چې له فرانسوي کلیمې Finer څخه اخیستل شوې دی او د پای ته رسېدلو یا اداکولو معنی لري. د فاینانس کلیمه په اتلسمه پېړۍ کې د مالي سرچېنو او پیسو د مدیریت لپاره وکارول شوه چې نن ورځ په نړۍ کې یو پراخ مفهوم وړاندې کوي. (Merriam-webster, 2022).

د وخت په اوږدو کې د مختلفو پوهانو له خوا د تمویل لپاره بېلا بېل تعریفونه وړاندې شوي دي. غیر مسلمان پوهان د تمویل په تعریف کې د هغه شرعي اړخ په نظر کې نه نیسي، هغوی د تمویل لپاره داسې تعریف وړاندې کوي: تمویل ددې مطالعې ته ویل کېږي، چې انفرادي اشخاص، مؤسسې، شرکتونه او دولت څرنګه پیسې او نورې مالي شتمنۍ ترلاسه کوي، هغه څرنګه اداره کوي او څرنګه یې په مصرف رسوي (Melicher & Norton, 2017). د اسلامي پوهانو له خوا تمویل په لاندې ډول تعریف شوی دی: هر غوښتونکي ته هغه که شخص وي، که مؤسسه یا تشبث وي او که دولت، د نغدو پیسو، جنس او یا خدمت په شکل مال برابرول، چې نوموړی د خپلې استفادې او یا نورو ته د ورکړې لپاره دغه مال ترلاسه کړي او د مال مالك ته د اصلي مال یا د هغه د عوض د سپارنې او هم له مال څخه د لاس ته راغلې ګټې د ورکړې ضمانت وکړي او دا هـرڅه د اسلامـي شریعـت په چـوکاټ کې د اسلامي اقتصاد له موخو سره سم ترسره شي تمویل بلل کېږي (رائد نصري, حریز, & غیث, ۲۰۱۹). له دې تعریفونو څخه څرګندېږي، چې هم حقیقي اشخاص او هم شرکتونه، مؤسسات او دولت د خپلې اړتیا یا علاقې له مخې په تمویلي فعالیتونو کې برخه اخلي.

تمویل د هر شخص او نهاد د بقاء او پایښت لپاره د ملا د تیر حیثیت لري. تمویل هغه مهمه کړنه دی، چې د هر تجارتي او غیر تجارتي نهاد د فعالیتونو دوام ممکن کوي او له پرځېدلو یې ژغوري. د تمویل له لارې د هر شخص او سازمان مادي او غیر مادي اړتیاوې پوره کېږي او له هغه پرته هېڅوك نشي کولای، چې خپل اقتصادی ژوند ته دوام ورکړي. له دې توضیحاتو څخه په واضیح توګه څرګندېږي، چې د اشخاصو، کورنیو، نهادونو او سازمانونو لپاره تمویل ډېر مهم دی او د تمویل لپاره له مختلفو مېتودونو څخه استفاده کېدلای شي؛ نو ځکه په دې اړوند علمي څېړنې تر سره کول هم خورا اهمیت لري. په دې څېړنې کې به په تېر او اوس مهال کې د تمویل له مختلفو لارو او مېتودونو څخه لنډه یادونه وشي، د مختلفو مېتودونو د مقایسې او ارزونې زمینه به برابره شي او تصمیم نیوونکو ته به دا معلومات چمتو شي، چې د تمویل لپاره د غوره مېتودونو په ټاکنه وتوانېږي.

د دې موضوع په اړه تر اوسه پورې د هېواد په داخل کې کومه علمي څېړنه نه دی خپره شوې خو له هېواده بهر ګڼ شمېر پوهانو په دې اړه څېړنې تر سره کړې دي، چې دلته یې له مهمو څېړنو څخه لنډه یادونه کوو. باسکین او میرانټ (۱۹۹۷) د شرکتونو د تمویل تاریخچه تر عنوان لاندې څېړنه ترسره کړې او په معاصر تمدن کې یې د شرکتونو د تمویل مېتودونه او تاریخچه تر بحث لاندې نیولې دی؛ خو د

نوموړو پوهانو مطالعه یوازي په معاصر تمدن راڅرخي او له معاصر تمدن څخه په مخکې وختونو کې یې د تمویل د مېتودونو څرنګوالی نه دی څېړلی. د دې ترڅنګ مونیرو (۱۹۴۸) د مخکینې اقتصادي نظریات تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې دی او په منځنیو او لومړنیو مېلادي پېړیو کې یې د تمویل مېتودونه مطالعه کړي دي؛ خو نوموړي هم په مخکې له مېلاد تمدنونو، اسلامي تمدن او معاصر تمدن کې د تمویل مېتودونه نه دي بیان کړي. سکون (۲۰۰۸) د اسلامي تمویل –عمومي کتنه تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې دی او په اسلامي تمدن کې یې د تمویل مېتودونه تشریح کړي دي؛ خو هغه هم له اسلام مخکې تمویلي مېتودونه او په معاصر غیر اسلامي تمدن کې تمویل نه دی توضیح کړی. غني زاده او باراني (۱۳۹۴) په اقتصادي تصدیو کې د تمویل مېتودونه تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې دی او په معاصر تمدن کې یې د تصدیو د تمویل مېتودونه مطالعه کړي دي؛ خو د نوموړي څېړنه هم یوازي تر معاصر تمدن پورې محدوده دی او له دې په مخکې وختونو کې د تمویل د مېتودونو په اړه معلومات نشي وړاندې کولای. لکه څرنګه چې یادونه وشوه ګڼ شمېر پوهانو د تمویل د مختلفو مېتودونو په تړاو څېړنې تر سره کړي دي؛ خو دا ټولې څېړنې تر یوه یا دوه تمدنونو پورې محدودې دي او د موضوع په تړاو پراخ تاریخي معلومات نه وړاندې کوي، ددې لپاره چې د تمویل د مېتودونو تاریخچه نسبتا په پراخه توګه مطالعه شي، د دې څېړنې تر سره کولو ته اړتیا لیدل کېږي او په ترڅ کې به یې په مخکې له مېلاد تمدنونو، لومړنیو او منځنیو مېلادي پېړیو، اسلامي تمدن او معاصر تمدن کې د تمویل مېتودونه په واضیح توګه بیان شي. د څېړنې اصلي موخه دا دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د تمویل د مېتودونو په اړه معلومات وړاندې شي. دې اصلي موخې ته په کتنې سره د څېړنې فرعي موخې عبارت دي له:

۱. مخکې له مېلاد تمدنونو کې د تمویل د مېتودونو په اړه معلومات وړاندې کول؛
۲. په لومړنیو او منځنیو میلادي پېړیو کې د تمویل د مېتودونو په اړه معلومات وړاندې کول؛
۳. په اسلامي تمدن کې د تمویل د مېتودونو په اړه معلومات وړاندې کول؛
4. په معاصر تمدن کې د تمویل د مېتودونو په اړه معلومات وړاندې کول.

د څېړنې اصلي پوښتنه دا دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د تمویل لپاره له کومو مېتودنو څخه استفاده کېده؟ دې پوښتنې ته په پام سره د څېړنې فرعي پوښتنې عبارت دي له:

۱. مخکې له مېلاد تمدنونو کې د تمویل لپاره له کومو مېتودونو څخه استفاده کېده؟
۲. په لومړنیو او منځنیو مېلادي پېړیو کې د تمویل لپاره له کومو مېتودونو څخه استفاده کېده؟
۳. په اسلامي تمدن کې د تمویل لپاره له کومو مېتودونو څخه استفاده کېږي؟
4. په معاصر تمدن کې د تمویل لپاره له کومو مېتودونو څخه استفاده کېږي؟

## مواد او کړنلاره

دغه څېړنه د موضوع د نوعیت له مخې د تاریخي څېړنو، د ارقامو د نوعیت له مخې د کیفي څېړنو او د ارقامو د منبع له مخې د کتابتوني څېړنو له جملې څخه دی، چې اړوند معلومات یې په ماهرانه توګه له

کتابونو، علمي مجلو او معتبرو انټرنیټي پاڼو څخه را ټول شوي او د استقرائي روش په مرسته تر تحلیل لاندې نیول شوي دي.

### ۱ - له مېلاد مخکې څخه په تمدنونو کې تمویل

که څه هم په بشري تاریخ کې د تمویل لپاره د پیل نقطه نشي ټاکل کېدلای؛ خو دومره ویلای شو چې د تمویل فعالیتونه هغه مهال رامنځ ته شول، چې منظمه کرنه، صنعت او سوداګرۍ منځ ته راغله. دا هغه وخت وو، چې پیسې نه وې اختراع شوې او یو جنس به په بل جنس تبادله کېده (جدي الهیتي، ۱۹۹۸). هغه مهال به د انسانانو ترمنځ څاروي او د څارویو محصولات (وړۍ، غوښه، شیدې او نور)، غلې دانې (وربشې، وریجې، غنم) او نور کرنیز محصلات د پور په توګه ورکول کېدل او ددې پور په مرسته به خلکو خپلې اړتیاوې پوره کولې. وروسته د اجناسو د پور ورکوونې ځای قیمتي فلزاتو لکه د سرو او سپینو زرو سکو ونیو او له هغه وروسته کاغذي پیسې او بیا الکترونیکي پیسې رامنځ ته شوې. ډاکتر غریب الجمال (۱۳۹۸ ق) لیکي: د سومریانو په سیمه کې د لرغوني اثارو له کیندنو څخه څرګندېږي، چې د هغوی مذهبي معبدونو به تمویلي او بانکي فعالیتونه تر سره کول او قرضه به یې ورکوله. سومریانو نژدې ۳۴ پېړۍ مخکې له مېلاد څخه په بین النهرین (د دجلې او فرات د سیندونو ترمنځ د اوسنی عراق په جنوب) کې ژوند کاوو. هغوی مختلف معبدونه درلودل، چې تر ټولو مشهور معبد یې د سره معبد (Red Temple) په نامه یادېده. د بین النهرین په لرغوني بابل ښار کې له موندل شوي تاریخي اثارو څخه څرګندېږي، چې هلته هم شل پېړۍ مخکې له مېلاد څخه تمویلي فعالیتونه تر سره کېدل. هغوی به تر ډېره د کرنې سکتور د تمویل لپاره قرضه ورکوله. د دې ځای له لرغوني لیکونو څخه په یوه لیك کې راغلي دي، چې واردا ایلیش (کېدای شي یو کروندګر به وو) د معبد له کاهن څخه څه سپین زر ددې لپاره قرض کړل، ترڅو شړشم پرې واخلي او هغه دا وعده وکړه، چې ددې سپینو زرو د قیمت په اندازه به د حاصلاتو د رسېدنې په وخت کې د هغې ورځې په نرخ سره هغه چاته شړشم ورکوي، چې له ځان سره د دې قرض سند ولري (حمود، ۱۴۰۲ ق). له دې څخه څرګندېږي، چې هغه وخت د تمویل فعالیتونه په معبدونو پورې تړلي وو، معبدونو به په زیاته اندازه پانګه او امانتونه درلودل، هغوی به قرضه ورکوله او د قرضې سندونه به د انتقال او راکړې ورکړې وړ وو. هغه مهال به سره او سپین زر او نور قیمتي توکي د اوږدې مودې لپاره په مذهبي معبدونو کې ساتل کېدل. دا چې ولې قیمتي توکي په معبدونو کې ساتل کېدل؟ عمده علتونه یې عبارت وو له:

- ☑ د مراجعینو پرلپسې بهیر: معبد ته د مراجعینو پرلپسې راتګ ددې سبب ګرځېدلی وو، چې یو څوك ددې قیمتي توکو په غلا کولو نه توانېده.
- ☑ د معبدونو د ودانۍ کلکوالی: هغه وخت به معبدونه ډېر کلك او ټینګ جوړېدل؛ نو ځکه به بې ننوتل ورته ستونزمن وو.

- ☑ عبادت ځایونه (معبدونه) پاک او سپېڅلي ځایونه ګڼل کېدل او داسې عقیده موجوده وه، چې معبدونه له غلو څخه د مالونو ساتنه کوي (Schoon, 2008). د دې ترڅنګ د حامورابي قانون (Code of Hammurabi The) چې ګمان کېږي له مېلاد څخه ۱۷٦۰ کاله مخکې د بابل د پاچا حمورابي په حکم لیکل شوی دی، په لرغوني بین النهرین کې د حکومتولی او بانکوالی قوانینو ته اشاره کړي، چې د بېلګې په توګه یې له لاندې مادو څخه لنډه یادونه کوو:
- ☑ که څوک ځمکه اجاره کړي او په هماغه کال یې کښت د توفان په واسطه له منځه یوړل شي یا یې حاصلات کم شي او یا د اوبو د کموالي له کبله حاصلات وده ونکړي؛ نو په هماغه کال مجبور نه دی، چې خپل قرض لرونکي ته د همدې کال اجاره (د غلې حاصلات) ورکړي.
- ☑ که څوک له یوه سوداګر څخه پیسې واخلي او هغه ته د جوارو یا شړشمو د کرلو لپاره څه ځمکه ورکړي بیا سوداګر په ځمکه کې کښت وکړي، د کښت حاصل د ځمکې د مالک دي او د قرض شوې پیسو د سود او د کښت د لګښتونو په بدل کې به یوازې یوه اندازه جوار یا شړشم سوداګر ته ورکوي.
- ☑ که پوروړی (د ځمکې مالک) د پور د ادا کولو لپاره پیسې ونه لري؛ د پیسو په بدل کې به سوداګر ته جوار یا شړشم ورکوي (king, 2004).

د رومیانو (چې په مدیترانه او د غربي اروپا په ډېره برخه کې یې ژوند کاوو) تر ټولو مهم مالي فعالیت دا وو، چې هر ډول خارجي اسعار به یې د روم په ملي پیسو بدلول. د روم پیسې د دوی په ښارونو کې یوازینۍ قانوني پیسې ګڼل کېدې. د استاد محمد فرید وجدي (1971) په نظر پخواني رومیانو دوه ډوله صرافیانې درلودې: لومړی ډول هغه صرافیانې وې، چې په سود سره او بې له سوده به یې خلکو ته پیسې په قرض ورکولې او دویم ډول هغه صرافیانې وې، چې د حکومت له خوا ګمارل شوې وې ترڅو د قوي ضمانت په شتون سره خلکو ته پیسې په قرض ورکړي. دویم ډول صرافیانې ۳۵۲ کاله مخکې له مېلاد څخه هغه مهال رامنځ ته شوې، چې قرض اخیستنه د خلکو د اوږو بار وګرځېده؛ نو ځکه حکومت اړ شو ترڅو له غریبو خلکو څخه ملاتړ وکړي.

د لرغوني یونان بانکوالانو به اسعار تبادله کول، د هغې ترڅنګ به یې پانګونه کوله او هم به یې پیسې په پور ورکولې. په لرغوني یونان کې بانکوالۍ یوازې تر معبدونو پورې محدوده نه وه، بلکې نورو بنسټونو لکه سوداګرو هم کولای شوای، چې د بانکوالۍ فعالیتونه ترسره کړي. د هغه وخت په مالي معاملاتو کې پور ورکونه، امانت اخیستنه، د اسعارو تبادله او د سکو ارزښت ټاکنه شامل وو. مالي خدمتونه به د یو ثابت فیس د ورکړې او یا هم د پانګونې په صورت کې په ګټه کې د شراکت په بدل کې تر سره کېدل. سوداګرو به د پور ورکوونکو لخوا تمویل کېده، هغوی به د فیس په مقابل کې د پور ورکونې سندونه (Credit Notes) لیکل او دغه سندونه د هېواد په هره برخه کې په نغدو پیسو بدلیدلای شوای. ددې کار ګټه دا وه، چې له ځان سره د سکو وړلو او د ساتونکو د ګومارلو اړتیا نه لیدل کېدله.

له بده مرغه د لرغوني یونان اوسېدونکو د بانکوالۍ په اړه ډېر لږ معلومات درلودل؛ نو ځکه یې زیاتره بانکوالان د بهر اوسېدونکي وو. د کریډیټ په اساس بانکوالي له مېلاد څخه په مخکې څلورمه پېړۍ کې د مدیترانې په نړۍ کې خپره شوه. هغه وخت غله جات (اوربشې، غنم، وریجې او نور) د تبادلې د وسیلې په توګه کارول کېدل او په مصر کې به د دولتي غله جاتو زیرمتونونو د بانکونو رول لوباوه. کله چې مصر د لنډې مودې لپاره د یونان تر واک لاندې راغی، د دولتي غله جاتو زیرمتونونه د غله جاتو د بانکونو په شبکه کې د مرکزي دفتر دنده تر سره کوله او دا ممکنه وه، چې په لاسونو کې د پیسو له فزیکي تبادلې پرته د حسابونو ترمنځ اداینه ترسره شي. رومیانو نغدو پیسو ته لومړیتوب ورکاوو؛ نو ځکه یې د مالي مؤسساتو لپاره پرمختللي مقررات وضع کړل او دا هغه وخت وو، چې بانکي سیسټم وده نه وه کړې او محدود وو (Schoon, 2008).

**۲ – په لومړنیو او منځنیو میلادي پېړیو کې تمویل**

د عیسویت په منځته راتګ سره بانکي سیسټم کې نوي محدودیتونه وټاکل شول او د سود اخیستل او ورکول یې غیر اخلاقي کړنه وبلله. د روم د امپراطورۍ له سقوط وروسته په اروپا کې فیوډالي نظام رامنځته شو، په بېلابېلو ښارونو کې مختلف حکومتونه منځته راغلل او هر حکومت د خپل ځان لپاره ځانګړې پولي واحد وټاکه، په پایله کې یې د اسعارو تجارت او تبادلې هم وده وکړه. په هغه وخت کې به شتمنو خلکو د غلا کېدلو او ضایع کېدلو له وېرې خپل قیمتي توکي مسلکي زرګرانو ته د ساتنې لپاره په امانت ورکول او هغوی ته به یې ددې ساتنې په عوض کې اجوره ورکوله. کله چې به امانت لرونکي بل لیرې ځای ته سفر کاوو، زرګر به هغه ته یو لیک ورکاوو او په لیک کې به یې خپلو خپلوانو یا ملګرو ته لیکلي وو، چې دې شخص ته د اړتیا وړ پیسې ورکړئ. دغې کړنې همداسې ادامه درلوده او پایله کې ددې سبب وګرځېده، چې د سروزوو تجارانو او صرافانو به امانت لرونکو ته یو سند ورکاوو، په دغه سند کې به د سروزرو د امانت مقدار لیکل شوی وو او دغه سندونه به د خلکو ترمنځ هم تبادله کېدل (غریب الجمال, ۱۹۷۲).

صلیبي جنګونه او په اروپا کې د سوداګرۍ وده د دې سبب شول، چې خلک مختلفو هېوادونو ته سفر وکړي، هغوی اړ ول، چې د سفر په مهال له ځان سره په پوره اندازه فزیکي پیسې ولري او دغه پیسې به یې په مختلفو سیمو کې تبادله کولې. هغه مهال له مختلفو خدماتو څخه د استفادې لپاره له ځان سره د فزیکي پیسو لېږد ته اړتیا وه او له غلو څخه د پیسو د ساتنې لپاره به لازم احتیاطي تدابیر نیول کېدل. ددې سربېره صلیبي جګړې ډېرې مصرف لرونکې وې او په جګړو کې ښکېلو اړخونو ته لازمه وه، چې پیسې پور کړي؛ نو ځکه به یې زیاتره وخت د ځمکې یا ودانۍ په ګرو کولو سره پور تر لاسه کاوه. په هر صورت دغه شرایط د پور اخیستونکو په نسبت د پور ورکونکو لپاره ډېر د خوښې وړ وو؛ خو د وخت په تېرېدلو سره ګروي ته هم تقاضا کمه شوه. د نړیوال سوداګرۍ لپاره د بهرنیو اسعارو د

تبادلې قراردادونو ته اړتیا وه، چې دا ډول قراردادونه په خپله د نړیوال تجارت د لاپرمختیا سبب وګرځېدل؛ خو د اسعارو د تبادلې په دې قراردادونو کې د وخت له توپیر څخه ترلاسه شوې ګټه (سود) قانوني نه ګڼل کېده. په دې وخت کې مالي قراردادونه په پراخه کچه د عیسوي عقیدې په اساس اداره کېدل. دې عقیدې سود اخیستل او ورکول منع کړی وه او د ټولې ټولنې لپاره یې د قیمت په عادلانه ټاکنه ټینګار کاوه؛ خو د وخت په تېرېدلو سره د سود د حرمت اصول له منځه لاړل او سود لرونکې بانکوالۍ ته وده ورکړل شوه. له کرنیز اقتصاد څخه سوداګریز اقتصاد ته د ټولنې بدلون، د عرضې او تقاضا پر بنسټ قیمت ټاکنه، د کلیسا حاکمیت کمېدل او د تولید د یوه عامل په توګه د پیسو پېژندل هغه عوامل وه، چې د سود اخیستلو او ورکولو ته یې وده ورکړه. په منځنیو پېړیو کې تر دیارلسمې پېړۍ پورې کلیسا هغه یوازینی بنسټ وه، چې کافي شتمنی به یې درلوده او یو مهم پور ورکوونکی ګڼل کېده. له هغه وروسته د کلیسا واکونه کم شول، سوداګر رامنځته شول او تجارانو ډېره شتمني پیدا کړه. دا هغه سوداګر وه، چې پیسي یې د انفرادي او دولتي مصارفو د تمویل لپاره په پور ورکړې وې. له هغوی څخه ځینې سوداګر د بانکونو خاوندان شول، هغوی نه یوازې دا چې خپله پانګه یې درلوده؛ بلکې د نورو پانګه یې هم له ځان سره د امانت په توګه ساتلې وه (Monroe, 1948).

۳- په اسلامي تمدن کې تمویل

د رسول الله ﷺ له بعثت (پیغمبرۍ) مخکې مکه د هغو قافلو د ارام ځای وه، چې له شمال څخه به یې جنوب ته سفر کاوو. هغه مهال په مکه معظمه کې له یوې خوا امانت ورکوونې رواج درلود او له بلې خوا د پانګونې مختلف فعالیتونه تر سره کېدل. امانت به هغه چاته ورکول کېده، چې په امانت ساتنه او وفاء کې به یې شهرت درلود او پانګونه به د مضاربې او سود له لارې تر سره کېده. د رسول الله ﷺ له بعثت وروسته سود حرام وګرځېده او د تصدیو د تمویل لپاره لاندې لارې وړاندې شوې:

۱. مُضاربه: هغه تړون دی، چې له مخې یې یو لوری (د سرمایې مالک یا رُبُ المال) بل لوری (کارکوونکي یا مُضارب) ته سرمایه ورکوي، مضارب په دې سرمایه کار کوي، ګټه د دواړو سره شریکه وي او که تاوان وشي هغه به یوازې د سرمایې په مالك راځي؛ ځکه د کارکوونکي کار ضایع شوی دی.

۲. مشارکه: کله چې دوه یا له دوه څخه ډېر اشخاص خپله پانګه (مال) سره شریکه کړي، په دې پانګې سره په ګډه کار وکړي او ټول شریکان په ګټه او تاوان کې سره شریک وي مشارکه بلل کېږي (الأسرج, ۲۰۱۲).

۳. مرابحه: یو جنس له اخیستل شوي قیمت څخه په څه لوړ قیمت سره خرڅول، ترڅو د قیمتونو له توپیر څخه ګټه ترلاسه شي مرابحه بلل کېږي. د مثال په ډول یو سوداګر په پنځه لکه افغانیو یو موټر اخلي او په خپل مشتري باندې یې په پنځه لکه او پنځوس زره خرڅوي، په دې ځای کې تجار له مرابحې څخه پنځوس زره افغانۍ ګټه تر لاسه کړې دی.

۴. اجاره: تر معلوم وخت پورې د معلوم عوض په مقابل کې د خدماتو خرڅولو ته اجاره ویل کېږي. لکه ټول هغه دولتي او غیر دولتي کارکوونکي چې معاش اخلي اجاره دی، له چا څخه د یوه خدمت فیس اخیستل اجاره دی یا د کور، موټر، ځمکې او نورو په کرایه ورکول هم اجاره بلل کېږي (حقاني، ۱۳۹۷ ش).
۵. سلم: کله چې خرڅوونکی له اخیستوونکي څخه د جنس قیمت په نغد ډول ترلاسه کړي او هغه ته په راتلوونکي کې د جنس د سپارلو وعده ورکړي سلم بلل کېږي (المنصور، ۱۴۱۹ ق).
٦. استصناع: کله چې یو شخص له بل شخص سره ددې تړون وکړي، چې یو یې بل ته یو ټاکلی او معلوم شی جوړوي د استصناع په نامه یادېږي. لکه د الماری، صندوق او داسې نورو شیانو د جوړولو قرار داد کول.
7. مزارعه: هغه تړون چې د یوه شخص ځمکه وي، بل شخص یې وکري او ګټه یې سره شریکه وي د مزارعې په نامه یادېږي (الأسرج، ۲۰۱۲).

که څه هم د تمویل د پورته لارو سربېره د تمویل لپاره یو شمېر نورې لارې لکه قرض حسنه، هدیه (ډالۍ)، وقف، وصیت او نور هم شتون لري؛ خو له هغو څخه د اشخاصو او کورنیو په تمویل کې استفاده کېږي او د تصدیو د تمویل لپاره مروجې لارې نه ګڼل کېږي. د اسلامي تمدن په لومړیو کې په ټوله اسلامي نړۍ کې یوازې تمویل له اسلامي لارو چارو څخه استفاده کېده؛ خو د وخت په تېرېدلو سره ګڼ شمېر اسلامي هېوادونه د کفري نړۍ تر استعمار او فکري اشغال لاندې شول او د اسلامي تمویل ترڅنګ له سودي تمویل څخه هم استفاده پیل شوه، چې تر نن ورځې پورې رواج لري. له نیکه مرغه د شلمې پېړۍ په اوږدو کې د اسلامي بانکونو او تمویلي مراکزو په تأسیس سره یو ځل بیا اسلامي تمویل ته پاملرنه زیاته شوه او دغه هڅې تر نن ورځې پورې رواني دي، ترڅو په اسلامي نړۍ کې یو ځل بیا د سودي تمویل په ځای له اسلامي تمویل څخه استفاده وشي او په اسلامي هېوادونو کې په بشپړه توګه د اسلام مالي نظام حاکم شي.

۴- په معاصر تمدن کې تمویل

په داسې حال کې چې د اروپا په ډېری سیمو کې د عیسویانو له خوا سود منعه شوی وه، د لومړي ځل لپاره په ۱۲۱۷ م کال کې په والنسیا (د هسپانیا یو ښار) او په ۱۴۰۳ م کال کې په فلورانس (د ایټالیا یو ښار) کې سود اخیستنه قانوني شوه. په فلورانس کې د سود قانوني کېدل د بانکدارۍ د صنعت ودې سبب وګرځېده. که څه هم د فلورانس بانکوالانو لادمخه په یو شمېر اروپایي هېوادونو کې د سود په اساس پورونه او امانتونه ورکړي وو. د وخت په تېرېدلو سره د هېوادونو واقعي شتمنۍ لکه کارخانو، ماشینرۍ او ځمکني او سمندري ترانسپورت وده وکړه او سهامي شرکتونه منځ ته راغلل. دغه پرمختګ د مالي شتمنیو لکه سهمونو، برات، د قرضې اسنادو او نورو ارزښت لرونکې پاڼو د ودې سبب وګرځېدل او د دې شتمنیو د راکړې ورکړې بازارونه رامنځته شول (Neal, 1990).

په انگلستان کې لندن د سوداګرۍ اصلي مرکز وو؛ نو ځکه ډېر مالي معاملات د ښار په قهوه خانو (Coffee Houses) کې تر سره کېدل. په ۱۵۶۵ م کال کې په لندن کې د شاهي تبادله ( Royal Exchange) په نوم مالي مرکز تأسیس شو او یو شمېر بانکي کاروبارونه ور ولېږدول شول. په هر صورت د ۱۷ پېړۍ په اوږدو کې د اسهامو یو شمېر دلالان له دې ځایه د هغوی د نسبتا مزاحم چلند له کبله وایستل شول او د اسهامو راکړه ورکړه ښېرته یوازې تر قهوه خانو پورې محدوده شوه.

د ۱۷ پېړۍ په لومړیو کې امستردام (د هالنډ پلازمېنه) په یو لوی سوداګریز مرکز بدل شو، چې د نړۍ د یوه لوی مالي مرکز توګه یې خپل موقف تر صنعتي انقلاب (Industrial Revolution) پورې ساتلی وه. په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې مالي مؤسساتو او مالي بازارونو په غربي اروپا کې ډېره وده وکړه، مالي شبکې ایجاد شوې، د خطرونو مدیریت ته توجه وشوه، مالي بازارونه سیال شول او دې بازارونو ته لاس رسی اسانه شو. د تجارت په زیاتوالي سره نقدو پیسو ته تقاضا ډېره شوه، مالي ثبات او د پیسو کنترول مهم وګڼل شول، په هېوادونو کې مرکزی بانکونه رامنځ ته شول او دې بانکونو د بانکنوټونو په خپرولو پیل وکړ. له صنعتي انقلاب وروسته مالي سیستم عصري بڼه غوره کړه او د پانګې بازارونه د تمویل مهمې سرچینې وګڼل شوې. که څه هم د وخت په اوږدو کې اقتصادي او مالي بحرانونو د تمویل او پانګونې په چارو ژوره اغیزه وکړه؛ خو په اوږدمهاله توګه دغه چارې مخ پر وده روانې وي (Baskin & Mirante 1997 ,). ددې ترڅنګ تمویل ځانته نړیواله بڼه غوره کړه، معیادي، اختیاري، راتلوونکي او سوآپ مالي قراردادونه وتړل شول او قرضه، پیسې، دوه اړخیزه محاسبه، د بانکي تصفیې میکانیزمونه او بانکي امانتونه هغه څه وو، چې په نړۍ کې یې یو تمویلي انقلاب منځ ته راووړ (Dickson, 1967).

د برتن ووډز د تبادلې د نرخ سیستم، نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او په نړیوال تجارت کې د خنډونو (تعرفو، سهیمو او سبسایډیو) د کمولو لپاره د General Agreement on Tariffs) GATT and Trade) قرارداد په منځ ته راتګ سره د نړۍ مالي حالت نوره وده هم وکړه، خارجي پانګونې زیاتې شوې او لوړې اقتصادي ودې ته د رسېدلو لپاره تمویل ته نوره هم تقاضا زیاته شوه ( Smithe & Walter 1997 ,). صنعتي انقلاب امریکا او انګلستان د بین المللي تمویل مرکزونه وګرځول او له دې تغیر سره یو ځای د دې هېوادونو بانکونو هم په تدریجي توګه اهمیت پیدا کړ. لندن او نیویارک لوی لوی مالي مرکزونه شول او له هغه وروسته هانکانګ (د چین یوه ځانګړې اداري سیمه)، توکیو (د جاپان پلازمېنه) او سینګاپور هېواد هم ورسره یوځای شول. په منځني ختیځ کې لبنان له پخوا څخه تر ټولو لوی مالي مرکز ګڼل کېده، ترڅو په ۱۹۸۲ کال کې د لبنان او اسرائیلو ترمنځ جګړه پیل شوه او بانکونو د بحرین او دوبۍ پر لور حرکت وکړ. د بانکونو او مالي مؤسساتو نوي څانګې رامنځ ته شوې او بانکونو د عمده او پرچون پلورنځیو په سطح مالي خدمات وړاندې کول پیل کړل. ددې کار جانبي عوارض دا وو، چې ګڼ شمېر کوچني بانکونه په څو لویو شرکتونو کې مدغم شول او د تمویل تصمیم نیونه یې نوره هم پېچلې کړه (Schoon, 2008). د بحث په پای کې ویلای شو، چې نن سبا په معاصره نړۍ کې د تصدیو د

تمویل لپاره له دوه مېتودونو څخه استفاده کېږي، چې د تمویل له داخلي او خارجي روشونو څخه عبارت دي.

**الف - داخلي تمویل**

د شرکت د داخلي تمویل مېتودونه (لارې او سرچینې) عبارت دي له:

۱. شخصي سرمایه او سهمونه: انفرادي غیر سهامي شرکتونه د تمویل لپاره د شرکت د مالك له شخصي سرمایې څخه کار اخلي او هغه شرکتونه چې مالکان یې له یوه څخه زیات وي د عادي شراکت په شکل په تمویل کې له خپلې شخصي شریکي سرمایې څخه استفاده کوي. په سهامي شرکتونو کې کېدای شي، چې د شرکت د مالکینو شخصي سرمایه هم شتون ولري؛ خو ددې شرکتونو د سرمایې یوه برخه یې له سهمونو څخه جوړه شوي وي. عام سهامي شرکتونه زیاتره د اسهامو په بازار (د بورس بازار) کې خپل سهمونه خرڅوي او له دې لاري سرمایه ترلاسه کوي (غني زاده & باراني, ۱۳۹۴ ش). د اسلام له نظره د اسهامو اخیستل او خرڅول په هغه صورت کې روا دی، چې ثابت سود ونه لري، که اسهام ثابت سود ولري اخیستل او خرڅول یې روا نه دي.

۲. نه توزیع شوې ګټه: شرکتونه د مالیاتو له اداینې وروسته د خپلې خالصې ګټې یوه برخه د مالي کال په پای کې سهم لرونکو (شریکانو) ته ور وېشي او یوه بله برخه یې د سهم لرونکو د نه توزیع شوې ګټې په حساب کې ذخیره کوي او شرکت د خپلو مالي ستونزو په حل کولو کې ترې استفاده کوي.

۳. د اداینې وړ ګټه: کله چې شرکت خپلو سهم لرونکو ته د ګټې د یوې برخې د وېش پرېکړه وکړي، ترڅو چې دغه ګټه عملا سهم لرونکو ته سپارل کېږي څه موده وخت نیسي، په دې موده هم شرکت کولای شي چې له وېشل کېدونکي ګټې څخه د تمویلي منبع په توګه استفاده وکړي. (جهانخاني & پارساییان, ۱۳۹۰).

۴. قانوني او احتیاطي ذخایر: قانوني ذخایر د شرکت د سرمایې یا ګټې هغه برخه دی، چې شرکتونه یې باید په اجباري توګه د خپل سیالیت د ساتلو لپاره وساتي او فیصدي یې په قانون کې ټاکل شوې وي. احتیاطي ذخایر د سرمایې هغه برخه دی، چې شرکت یې په خپله خوښه (په غیر اجباري توګه) د احتیاط لپاره له ځان سره ساتي ترڅو د اړتیا په مهال ترې ګټه واخلي.

۵. د شتمنیو خرڅلاو: د شرکت د اضافي او مستعملو شتمنیو لکه ماشین الاتو، وسایلو او تجهیزاتو او نورو خرڅول هم د تمویل یوه بله سرچینه ګڼل کېږي.

۶. له شریکانو څخه ترلاسه شوی قرض: ځیني وخت شرکت اړ کېږي، چې له خپلو شریکانو څخه قرض واخلي او ددې قرض په مرسته خپل فعالیتونه تمویل کړي.

۷. د ادائینې وړ مزد او حقوق: ځیني وخت شرکتونه د خپلو کارمندانو مزد یا معاش ځنډوي او ترڅو چې هغه ادا کوي د یوې تمویلي منبع په توګه ترې استفاده کوي (اسکندري, ۱۳۹۱).

**ب - خارجي تمویل**

د شرکت د خارجي تمویل مېتودونه (لارې او سرچینې) عبارت دي له:

۱. تجارتي قراردادونه: ځيني وخت شرکتونه د پروژو د پرمخ وړلو قراردادونه کوی او له دې قرار دادونو څخه د تمويل لپاره پيسې ترلاسه کوي، چې د فايننس په نامه يادېږي او د تمويل لپاره يوه مهمه سرچينه ګڼل کېږي.
۲. بېرته تمويل: کله چې پخوانی قرض ادا او پرځای يې په نسبتا اسانه شرايطو سره نوی قرض ترلاسه شي بېرته تمويل (Refinance) بلل کېږي. بېرته تمويل لنډمهاله وي او معمولا يې موده له يو کال څخه نه زياتېږي. (غني زاده & باراني, ۱۳۹۴ ش).
۳. تضمين شوی پور: د برات د ورکړې په بدل کې په پور سره د وسايلو او تجهيزاتو اخيستلو ته تضمين شوی پور (يوزانس) ويل کېږي. برات (د تبادلې بيل) هغه ليکنه ده، چې په مرسته يې يو شخص بل شخص ته حکم کوي ترڅو په ټاکلي وخت کې ټاکلی مقدار پيسې يوه درېيم شخص ته (هغه چاته چې ليکونکي مشخص کړی وي) ورکړي. برات هغه وخت د باور وړ دی، چې دويم شخص دا ومني، چې هغه دغه مقدار پيسې ورکوي.
۴. بين المللي قرضونه: د تمويل ددې روش له مخې شرکت د يوې پروژې د بشپړولو لپاره له نورو نړيوالو مؤسساتو څخه قرضه اخلي، دغه قرضه بايد د قرض ورکوونکې مؤسسې تر کنترول لاندې وي او هم بايد د پروژې د بشپړولو په وخت کې په مصرف ورسېږي.
۵. متقابل تجارت: د تمويل په دې روش کې شرکتونه د يوه جنس د صادرولو په بدل کې بل جنس واردي او له هغه وارد شوي جنس څخه د خپلو اړتياوو په پوره کولو کې کار اخلي.
٦. د قرضې د اسنادو نشرول: د قرضې سند (د قرضې پاڼه) هغه د تبادلې (په مالي بازار کې د اخيستلو او خرڅولو) وړ پاڼه دی، چې ټاکلی مقدار قرض له ټاکلي سود سره پکې ليکل شوی وي او اصل قرضه او د هغې سود بايد په ټاکل شوی وخت يا وختونو کې ادا شي. کله چې شرکت له کوم چا څخه د قرض په اخيستلو ونه توانيږي او يا هم د تمويل بله سرچينه ونه لري؛ نو د قرضې اسناد نشروي او د هغو د خرڅولو له لارې سرمايه لاس ته راوړي.
۷. له اسلامي بانکونو څخه تمويل: په دې روش کې شرکت له اسلامي بانکونو څخه د مضاربې، مشارکې، اجارې او نورو په اساس تمويل کوي او خپله اړتيا پرې رفع کوي.
۸. د اداينې وړ اسناد او حسابونه: په دې روش کې شرکت په قرض سره اجناس اخلي او د دې اخيستنې په مقابل کې د اجناسو خرڅوونکو ته داسې سند ورکوي، چې د هغه له مخې به دغه قرض په نژدې راتلوونکي کې ادا شي. په دې ځای کي شرکت په قرض سره اخيستنه وکړه او هغه پيسې چې ددې اخيستنې په بدل کې به ورکول کېدلې په نورو ځايونو کې په مصرف رسوي. (غني زاده & باراني, ۱۳۹۴ ش).
۹. پېشکي ترلاسه شوې پيسې: ددې روش له مخې شرکت له مشتريانو څخه مخکې له مخکې پيسې ترلاسه کوي او ددې پيسو په مقابل کې جنس يا خدمت په راتلوونکي کې ورته وړاندي کوي. دغه روش په اسلام کې د سلم په نامه يادېږي او د شريعت له نظره روا بلل کېږي.

۱۰. له دولت څخه ترلاسه شوې بلاعوضه مرسته: ددې روش له مخې دولت شرکت ته بلاعوضه مرسته ورکوي ترڅو نوموړی شرکت له منځه ولاړ نه شي او خپل فعالیت ته ادامه ورکړي.

11. له بیلانس شیت څخه د باندې تمویل: ددې روش له مخې شرکت له یو شمېر داسې دارایي ګانو او پورونو څخه استفاده کوي، چې د شرکت په بیلانس شیت کې نه وي لیکل شوي لکه د فرعي شرکتونو ایجادول، مالونه اجاره کول، د دارایې ګانو اخیستل او خرڅول او داسې نور (دستګیر & غني زاده, ۱۳۹۱).

مخکې مو د موضوع د مخینې په تړاو بحث تر سره کړ او ومو ویل چې، د دې موضوع په اړه تر اوسه پورې د هېواد په داخل کې کومه علمي څېړنه نه دی خپره شوي خو له هېواده بهر ګڼ شمېر پوهانو په دې اړه څېړنې تر سره کړي دي، چې د بېلګې په توګه مو له یو شمېر څېړنو څخه یادونه وکړه. باسکین او میرانټ (۱۹۹۷) د شرکتونو د تمویل تاریخچه تر عنوان لاندې څېړنه ترسره کړي وه، د نوموړو پوهانو مطالعه یوازي په معاصر تمدن راڅرخیده، حاضري څېړنې هم په معاصر تمدن کې د تمویل د مېتودونو په تړاو ورته معلومات وړاندې کړل او له هغه سربېره یې په مخکې له مېلاد، لومړنیو او منځنیو مېلادي پېړیو او اسلامي تمدن کې د تمویل میتودونه تشریح کړل. مونیرو (۱۹۴۸) په خپله څېړنه کې په منځنیو او لومړنیو مېلادي پیړیو کې د تمویل میتودونه مطالعه کړي وو؛ خو هغه هم په مخکې له مېلاد تمدنونو، اسلامي تمدن او معاصر تمدن کې د تمویل مېتودونه نه وو بیان کړي، چې حاضري څېړنې دغه تشه هم ډکه کړه. سکون (۲۰۰۸) په اسلامي تمدن کې د تمویل میتودونه تشریح کړي وو؛ خو هغه هم له اسلام مخکې تمویلي میتودونه او په معاصر غیر اسلامي تمدن کې د تمویل میتودونه نه وو توضیح کړی، حاضري څېړنې په اسلامي تمدن کې د تمویل د میتودونو په اړه د سکون د څېړنې په څېر پایله تر لاسه کړه او هم یې دغه موضوع نوره هم په پراخه توګه توضیح کړې دی. غني زاده او باراني (۱۳۹۴) په معاصر تمدن کې د تصدیو د تمویل مېتودونه مطالعه کړي وو او حاضري څېړنې د هغوی د څېړنې د پایلو په تائید سربیره د تمویل مېتودونه په نسبتا پراخ مفهوم سره تشریح کړل. په پای کې په لنډه توګه ویلای شو، چې د څېړنې د موضوع په تړاو د یو شمېر نورو پوهانو له خوا علمي څېړنې تر سره شوي وې؛ خو هغه تر یوه او یا دوو تمدنونو پورې محدودي وې، دې څېړنې په پراخ ډول د تمویل میتودونه په مخکې له مېلاد تمدنونو، لومړنیو او منځنیو مېلادي پېړیو، اسلامي تمدن او معاصر تمدن ټولو کې توضیح کړل.

**پایلیزه**

دغه څېړنه د تاریخ په اوږدو کې د تمویل د څرنګوالي په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو په موخه تر سره شوه. له څېړنې څخه داسې جوته کیږي، چې:

۱. په مخکې له مېلاد تمدنونو کې د تمویل لپاره له مذهبي معبدونو څخه قرضه تر لاسه کېده او له دې قرضې څخه به د تمویل لپاره استفاده کېدله.

۲. د عیسویت په منځ ته راتګ سره د سود اخیستل او ورکول غیر اخلاقي وګڼل شول او په بانکي سیستم کې نوي محدودیتونه وضع شول، په دې وخت کې به خلکو د تمویل لپاره خپل تعمیر یا ځمکه په ګروي ورکوله او د دې ګروي په بدل کې به یې قرضه تر لاسه کوله؛ خو د وخت په تېریدلو سره د سود د حرمت اصول له منځه ولاړل او سود لرونکي بانکوالي او تمویل ته وده ورکړل شوه.

۳. د اسلام د سپېڅلي دین په منځ ته راتګ سره د سودي قرضې له لارې تمویل حرام وګرځېدل او د تمویل لپاره د مضاربې، مشارکې، مرابحې، سلم، اجارې، استصناع او مزارعې له مېتودونو څخه استفاده کول جایز وګڼل شول.

4. په معاصر تمدن کې د داخلي تمویل او خارجي تمویل له دوو مېتودونو څخه استفاده کېږي. په دې مېتودونو کې د شراکت او سهمونو له توزیع کولو څخه تمویل، له سود لرونکې او سود نه لرونکې قرضې څخه تمویل، له تر لاسه شوې ګټې څخه تمویل، د شمتنیو له خرڅلاو څخه تمویل، له پیشکي تر لاسه شوې پیسو او د ادایني وړ اسنادو او حسابونو څخه تمویل او له بیلانس شیټ څخه د باندې تمویل شامل دي.

## سرچينې


ابن فارس, ا. (۱۳۹۹ ق). معجم *مقاييس اللغة* . (ع. هارون, ژباړونکې) بیروت: دار الفکر.

اسکندري, ج. (۱۳۹۱). *مرور جامع بر حسابداري مالي* (جلد اول ټوک). تهران: انتشارات فرشید.

الأسرج, ح. ع. (۲۰۱۲). *دور التمويل الاسلامي في تنمية المشروعات الصغيرة و المتوسطة* . بني ملال - المغرب: جامعة السلطان مولای سلیمان.

الجمال, ا. غ. (۱۳۹۸ ق). *المصارف وبيوت التمويل الاسلامية* . جدة: دارالاتحاد العربي للطباعة.

المنصور, خ. (۱۴۱۹ ق). *مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحر*. بیروت: دار الکتب العلمية.

أنيس, ا., منتصر, ع., الصوالحي, ع., & أحمد, م. (۲۰۰۸). *المعجم الوسيط* . القاهرة: مكتبة الشروق الدولية.

جدي الهيتي, ا. ر. (۱۹۹۸). *المصارف الاسلامية بين النظرية والتطبيق*. الأردن: دار أساة للنشر والتوزيع.

جهانخاني, ع., & پارساييان, ع. (۱۳۹۰). *مديريت مالي* (چاپ اول ایډیشن, جلد اول ټوک). تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انساني دانشگاه ها (سمت).

حقاني, م. (۱۳۹۷ ش). *اسلامي اقتصاد او بانکوالي*. کابل: افغان پوهنتون.

حمود, ا. (۱۴۰۲ ق). *تطوير الاعمال المصرفية بما يتفق و أحكام الشريعة الاسلامية* (۲ ټوک). عمان: مطبعة الشرق دستګیر, م., & غني زاده, ب. (۱۳۹۱). حساب آرایي. *مجله حسابرس, شماره ۶۱* (سال چهاردهم), پاڼ ص ۹۱.

رائد نصري, ج., حريز, ع., & غيث, م. (مارس/۲۰۱۹). التمويل الاسلامي الماهية والخصائص المعيارية. *مجلة جامعة فلسطين للأبحاث والدراسات, ج ۹* (عدد۱), ۳۲۲-۳۶۳.

غريب الجمال, د. (۱۹۷۲). *المصارف والاعمال المصرفية في الشريعة الاسلامية والقانون*. القاهرة: دار الاتحاد العربي.

غني زاده, ب., & باراني, ز. (۱۳۹۴ ش). روش‌های تأمين مالي در بنگاه هاي اقتصادي. *حسابدار رسمي*, **۲۹**, ۵۹-۶۹.

وجدي, م. (۱۹۷۱). *دائرة معارف القرن العشرين* (۳ ټوک). بيروت: دار المعرفة.

Baskin, J & ,.Mirante , J .(1997) .*Ahistory of Corporate Finance .* Cambridge. UK: Cambridge University Prees.

Dickson, P .(1967) .*The Financial Revolution in England: A Study in the Development of public Credit* .New York St.: Martin`s Press.

king, L. w .(2004) .*the code of hummurabi* .Whitefish MT USA: kessinger publishing.

Melicher , R & ,.Norton, E .(2017) .*Introduction to Finance*16) the edithon .(River Street, Hoboken, USA: John Wiley & Sons Inc.

Merriam-webster .(2022) .*merriam webster* .from: http://www.merriam-webster.com

Monroe, a. E .(1948) .*early economic thought , selection from economic literature prior to adam smith* .combridge: harvard university press.

Neal, L .(1990) .*The Rise of Ffinancial Capitalism: in International Capital Markets in the Age of Reason .* Cambrige, UK: Cambridge University Press.

Schoon, N .desember/2008 .(islamic finance - an overviw .(*european business organizaion law review 9* ,p.637-621

Smithe , R & ,.Walter , I .(1997) .*Global Banking .* Oxford, UK: Oxford University Press.

# A Historical study of financing methods

**Abdullah Habibi**
Management and Business administration Department, Economics faculty, .Paktika institute of higher education.
Email: abd.habibi.af@gmail.com

## Abstract

Finance is the backbone of survival and sustainability of every individual and institution, and without it, no one can continue their economic life. Considering the importance of finance this research has been done with the purpose of providing information about the methods of financing throughout the history. According to the library method, the information related to the research was collected from books, scientific magazines and reliable internet pages and in the end such a result was obtained, that before the millennium, loans were received from religious temples for financing. With the advent of Christianity, usury was prohibited and it became customary to get a loan in exchange for the mortgage of wealth; but later, interest-bearing financing grew again. With the advent of the holy religion of Islam, usury became forbidden and it was considered permissible to use the methods of mudarabah, musharakah, murabaha, salam, ijarah, istisna and muzara`a. In contemporary civilization internal and external methods are used for financing. These methods include share distribution financing, debt financing, retained earnings financing, asset sale, cash advances and accounts payable financing and off balance sheet financing.

**Key Words**: Finance in Islamic Civilization, Finance in Contemporary Civilizations, Finance in the Pre-Christian Civilizations, Finance in the Early Ages, finance in the Middle Ages.